**بسم الله الرحمن الرحیم**

## د مسلمانو حکامو په حق کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم دعا

**(ژباړه)**

لـه عایشــې رضي اللـه عنهـا څخـه روایـت دی چـې وایـي: لـه رسـول اللـه صـلی اللـه علیـه وسـلم څخـه مـې پـه خپل کور کې واورېدل چې ویې فرمایل:

**«اللَّهُمَّ مَنْ وَلِيَ مِنْ أمرِ أُمَّتِي شَيْئاً فَشَقَّ عَلَيْهِمْ فَاشْقُقْ عَلَيْهِ، وَمَنْ وَلِيَ مِنْ أَمْرِ أُمَّتِي شيئًا فَرَفَقَ بِهِمْ فَارْفَقْ بِهِ»:**

***ژباړه:*** *اې الله! چا چې زما د امت د چارو مسوولیت پر غاړه واخیست او له هغه (امت) سره یې سختي وکړه، نو له هغه سره سختي وکړه او چا چې زما د امت د چارو مسوولیت پر غاړه واخیست او له هغه (امت) سره یې نرمي وکړه، نو ته ورسره نرمي وکړه.*

د رسـول اللـه صـلی اللـه علیـه وسـلم دغـه دعـا د هغـو کسـانو پـه حـق کـې ده، چـې د مسـلمانانو د چـارو مسـوولیت پـر غـاړه اخـلي، هغـه کـه پـه خـاص ډول وي او یـا پـه عـام ډول. رسـول اللـه صـلی اللـه علیـه وسـلم د هغـه حـاکم پـه اړه د خیـر دعـا کـړې، چـې لـه مسـلمانانو سره پـه مهربـانۍ او زړه‌سـوي چلنـد وکـړي او د هغـو حکامو په حق کې یې ښېرا کړې، چې له مسلمانانو سره سخت چلند کوي.

د (**شَـيْئاً**) نکـره کلمـه د شرط پـه سـیاق کـې راغلـې ده، ترڅـو هـر مسـوولیت پکـې شـامل شي. علـماوو ویـلي چـې نکـره کلمـه د شرط پـه سـیاق کـې عامـه معنـا ورکـوي؛ لـه همـدې املـه پـه دې دعـا کـې دغـه لانـدې مسـوولیتونه هـم شـاملېږي لکـه؛ پـه کـور کـې د سـړي مسـوولیت او د کـور او بچیـانو پـه اړه د ښـځې مسـوولیت، پـه مدرسـه کـې د مـدیر مسـوولیت، د زده کـوونکي پـر وړانـدې د اسـتاد مسـوولیت او همدارنګـه د رعیـت پـر وړانـدې د حـاکم مسـوولیت. پـر همدغـه اسـاس د هـر هغـه مسـلمان لپـاره چـې د مسـلمانانو د چـارو سرپرسـتي کـوي، لازمـه ده چـې دغـه حـدیث د ځـان لپـاره الګـوه ونیسيـ، لـه خپلـو تـر لاس لانـدې کسـانو سره پـه مهربـانۍ چلند وکړي او له هغوی څخه داسې ساتنه وکړي، لکه څنګه یې چې حق دی.

نــن ورځ مسـلمانان پــه ګمــراه او مــزدورو حکــامو ابـتلاء شـوي دي، چــې د مســلمانانو لــه رضــایت او غوښــتنې پرته پـر هغـوی د ظلـم او وحشـت لـه لارې حکومـت کـوي، امـت تـه هـېڅ پـام نـه کـوي او ظلـم وربانـدې کـوي. پـر امــت یــې داســې اســتخباراتي ســازمانونه ګومــارلي دي، چــې ان د بچیــانو ســاه‌ګانې یــې شــمېري، فعالیتونــه یې کنټرولوي او په ورځني ژوند کې ورسره یو ځای دي.

دوی مسـلمانان نیسي، شـکنجه کـوي يـې او جـزاوې ورکـوي او ان د هغـوی کورونـو تـه پـه ورتـګ سره يـې حرمـت تـر پښـو لانـدې کـوي... ولـې داسـې نـاوړه چلنـد کـوي؟ هـو، هغـوی دغـه کـار د خپـل قـدرت او څوکيـو د سـاتلو لپـاره کـوي. دا هغـه څـوکۍ دي چـې اسـتعمارګرو کفـارو د مسـلمانانو د رښـتيني حـاکم (هغـه خليفـه چې په امت کې په عدالت حکم کوي) تر له منځه وړلو وروسته دوی ته ډالۍ کړې دي.

اې ربـه! د رسـول اللـه صـلی اللـه عليـه وسـلم پـر مـنهج خلافـت ژر را پـه برخـه کـړه، چـې د مسـلمانانو خپګـان لـرې کـوي او د هغـوی د مصـيبتونو مخـه نيسي. اې ربـه! د خپـل کـريم نـور پـه واسـطه دغـه ځمکـه روښـانه کړه! اللهم آمين آمين.

**ژباړه: بهير «وياړ»**